مجیب الرحمن ساپی کابل، ۲۰۱۲/۰۲/۱۲

# د مصر او امریکا تقابل

په تونس کی له پاڅونونو څخه وروسته، چی په پایله کی یی د دغه هیواد واکمن زین العابدین بن علي نسکور شو مصر دویم هیواد وو، چی پاڅونونه په کی بریا ته ورسیدل او حسنی مبارک له دیرش کلنی واکمنۍ څخه وروسته له خپلی دندی استعفا ورکړه.
له هغه وروسته، چی د ۱۹۸۱ زیږدي کال د اکتوبر میاشتی په ۶ نیټه د مصر پخوانی ولسمشر انور سادات ترور شو حسنی مبارک د یاد کال د اکتوبر میاشتی په ۱۴ نیټه واک تر لاسه کړ. دری ځله په ولسمشریزو ټاکنو کی پرته له دی، چی کوم سیال یی پر وړاندی موجود وي بریالی شو او په ۲۰۰۵ زیږدي کال کی د څلورم ځل لپاره د مصر د ولسمشر په توګه وټاکل شو او ټاکل شوی وه، چی د ۲۰۱۱ زیږدي کال تر سپټمبر میاشتی د ولسمشر په توګه پاتی شي؛ خو بخت ورسره یاري ونه کړه او د خلکو له پاڅون سره مخ شو، چی په پایله کی یی استعفا ورکړه.
په منځني ختیځ او همدا راز د افریقا په شمال کی د پاڅونونو په لومړیو کی داسی انګیرل کی ده، چی ګواکی امریکا دی د دغو پاڅونو تر شا لاس ولري؛ خو له هغه وروسته، چی د لومړي ځل لپاره په تونس کی آزادی ټاکنی تر سره شوی او په پایله کی د النهضه اسلامپاله ګوند د دغه هیواد په پارلمان کی ډیری څوکۍ تر لاسه کړی، نو دغه انګیرنه غلطه ثابته شوه. بل لور ته د لیبیا د انتقالي شورا مشر هم ویلي دي، چی لیبیا یو اسلامي هیواد دی او په لیبیا کی به ټول قوانین د اسلامي شریعت پر بنسټ وي، چی دغو څرګندونو هم لویدیځ په ځانګړي توګه امریکا ولړزوله. د مصر په پارلماني ټاکنو کی د اسلامپاله ګوندونو په ځانګړي توګه د اخوان المسلمین تر چتر لاندی د عدالت او آزادۍ ګوند بریا د دی لامل شوه، څو هغه انګیرنی په بشپړه توګه غلطی ثابتی شي، چی ویل کیده د منځني ختیځ او د افریقا د شمال په پاڅونونو کی د امریکا او لویدیځ لاس دی.
په لومړي سره کی به د مصر پاڅونو ځانګړتیاوو ته ځغلنده نظر واچوم او وروسته به د مصر پر وړاندی د امریکا چلوټو ته راشم.
د مصر په پاڅون کی تر ټولو مهم او اساسي ټکی په ۲۰۱۱ زیږدي کال کی د دغه پاڅون د تر سره کیدو نه وړاندوینه وه، چی د امریکا لپاره اطلاعاتي ماتی او په امریکا کی د بحث له اصلي محورونو څخه شمیرل کیږي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیری میرمن هیلاري کلنټون وایي، چی موږ د دغه پاڅون له ترسره کیدو څخه وړاندی په دی آند وو، چی د مصر پخواني واکمن حسنی مبارک پر وړاندی به خلک را پاڅیږي؛ خو موده مو دومره ژر ورته نه وه ټاکلی. د امریکا ولسمشر بارک اوباما هم د دغه هیواد پر څارګرو ادارو نیوکه کړی او څارګرو ادارو بیا ویلي، چی موږ د پاڅون وړاندوینه کړی وه؛ خو دا معلومه نه وه، چی کره وخت به یی کله وي؟.
په دغه پاڅون کی بل اساسي ټکی د نویو جریانونو رامنځ ته کیدل وو او د دغو جریانو بستر څلورم یا اړیکتیایي انقلاب دی. لومړی انقلاب ټیلیفون او ټیلیګراف، دویم انقلاب چاپ، دریيم انقلاب سپوږمکۍ او څلورم هغه یی ویب، چی د مصر په پاڅون کی د ویب او په ځانګړي توګه د ټولنیزو شبکو ونډه د پام وړ وه.
د مصر د پاڅون دریيم اساسي ټکی په دغه پاڅون کی ټولیزی غوښتنی او د ټولو وګړو ترمنځ همغږي وه، چی ټول سره په یوه غږ د استبداد پر وړاندی و دریدل. دغو بدلونونو په ډاګه کړه که چیری یو ملي جمعیت د ګډو او ټولیزو غوښتنو پر بنسټ سره همغږی شي بریا به د دوی په برخه وي.
څلورمه ځانګړتیا یی هم پر سیمه د دغه پاڅون اغیز وو.
له هغه وروسته، چی امریکا د منځني ختیځ او د افریقا د شمال په پاڅونونو په ځانګړي توګه د مصر په پاڅون کی له ماتی سره مخ شوه؛ یعنی دا، چی امریکا هغه څه، چی له دغو پاڅونونو څخه یی غوښتل تر لاسه یی کړي لاسته یی را نه وړل، نو د دی په لټه کی شوه، څو د تیر په څیر بیا هم په منځني ختیځ او په ځانګړي توګه په مصر کی د پښو ځای پیدا کړي او ملاتړي تر لاسه کړي.
د همدغو هڅو په لړ کی امریکا د مصر خپلواکه او مدني بنسټونه ته پیسی ورکول پیل کړل، څو وکولای شي د دغه هیواد په پارلماني ټاکنو امریکا پلوه نوماندان بریا تر لاسه کړي. په همدی لړ کی څه موده وړاندی یوه مطرح مصري شناندي د مصر پارلماني ټاکنو په څنډه کی وویل: "امریکا په دوحه، ریاض او قاهری کی د خپلو سفیران له لاری د مصر د ولسیز پاڅون له پیل څخه امریکا پلوه ډلو سره اووه ملیونه ډالره مرسته کړی". چی دغه اووه ملیونه ډالره د رسمي شمیرنی له مخی دي او کیدای شي د پیسو دغه ورکړه څو برابره زیاته وي.
د امریکا له لوري مصریانو ته د پیسو ورکولو او د مصر په کورنیو چارو کی د امریکا د بشپړی لاسوهنی څخه وروسته د مصر قضایي چارواکو پټیله ده، څو ۱۹ تنه امریکایي وګړي او همدا راز ۲۴ تنه د نادولتي ډلو او بنسټونو غړي په


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

مصر کی ناآرمیو ته د لمن وهنی په تور محاکمه کړي. دغه کسان تورن دي، چی له بهرنی بودیجي څخه یی په مصر کی د ناآرامیو رامنځ ته کیدو په موخه ډلی ټپلی جوړی کړي دي.
د دغو کسانو محاکمی پر وړاندی امریکا خبرداری ورکړی دی که چیری دغه ۱۹ تنه امریکایي وګړي تر قضایي څار لاندی راشي نو واشنګټن به له مصر سره خپلی مرستی پری کړي. په ورته وخت کی بیا د مصر دولت ویلي دي، چی قاهره به هیڅکله د واشنګټن تر اغیز لاندی را نه شي او د مصر محکمی به خپله پریکړه کوي.
که چیری د قضیی ظاهر ته وکتل شي، نو داسی بریښي، چی د امریکا او مصر اړیکی مخ په سړیدو روانی دي او شونی ده، چی دغه اړیکی په بشپړه توګه له منځه لاړی شي؛ خو که چیری د مصر او امریکا پخوانیو اړیکو ته ځیر شو، نو په ډاډه زړه ویل شم، چی امریکا به هیڅکله هم و نه غواړي، څو په منځني ختیځ کی خپل دغه ځواکمن متحد له لاسه ورکړي.
د سړی جګړی پر مهال د جمال عبدالناصر په مشری، مصر پخوانی شوروي ته لیواله وو او ځان یی د ختیځ بلوک غړی باله؛ خو په مصر کی د انور سادات له واکمنی څخه وروسته دغه لیوالتیا لویدیځ بلوک یعنی امریکا خواته ډیره شوه. د ۱۹۷۸ زیږدي کال د سپتمبر میاشتی په ۱۷ نیټه د مصر ولسمشر انور سادات او د اسراییل لومړي وزیر مناخیم بګین ترمنځ د امریکا د ولسمشر جیمي کارټر په منځګړیتوب د کمپ ډیوېډ تړون لاسلیک کول، چی له مخی د اسراییل او مصر ترمنځ جګړه پای ته ورسیده او اسراییل د مصر له لوري په رسمیت وپیژندل شو، امریکا ته یی د سادات ژمنتوب لاس ثابت کړ. د انور سادات د دغو کړنو په پایله کی مصر په منځني ختیځ کی د امریکا لپاره له اصلي متحدینو څخه وشمیرل شو، چی د انور سادات له ترور څخه وروسته حسنی مبارک هم یو په یو د امریکا غوښتنی پلي کړي او د امریکا له متحدینو څخه شمیرل کیده.
امریکا مصر ته په خبرداریو ورکولو سره غواړي په لومړي ګام کی خپل دغه ۱۹ تنه غړي، چی په مصر کی ناآرمیو ته د لمن وهلو په تور نیول شوي او ټاکل شوی، چی محاکمه شي؛ له محاکمی څخه وژغوري او په دویم ګام کی د مصر په کورنیو چارو کی لاس‌وهنی ته دوام ورکړي.
اوس مهال، چی امریکا مصر ته د خپلو مرستیو له بندیدو څخه خبر ورکړی دی شونی ده، چی امریکا د دی لپاره، څو وکولای شي مصر تر فشار لاندی راولي دغه مرستی د یوی مودی لپاره و ځنډوي؛ خو په اوږد مهاله کی امریکا اړتیا لري، څو له مصر سره خپلی اړیکی ښی وساتي.
د مصر اوسنیو حالاتو ته په کتو او همدا راز د مصر په پارلمان کی د اسلامپاله ګوندونو بریا ته په پام سره د مصر اوسنی دولت به، چی مشري یی کمال جنزوري کوي دغه ۱۹ تنه او پاتی ۲۴ تنه نور یی محاکمه کړي، څو له یوه لوري د پارلمان او مصریانو تر نیوکو لاندی را نه شي او له بل لوري توانیدلی وي په دغه هیواد کی بهرنیو لاس وهنو ته د پای ټکی کیږدي.
دا به د مصر په چارو کی د امریکا د لاس وهنی وروستی هڅه نه وي او تل به په دی لټه کی وي، څو د مصر په پارلمان او همدا راز په حکومت خپل پلویان زیات کړي، څو له یوه لوري په مصر کی د امریکا ګټی خوندي او له بل لوري له مصر څخه اسراییل ته کوم ګواښ پیښ نه شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ